هفته نامه
دجهاد هنداره
مـراة الجـهـاد
لومړی کال(٤٠) گنه چهارشنبه ، د ١٣٧٠ هـ ش کال دجوزا (٢٢)

PROPERTY OF ACKU

عملیات مجاهدین درکندز

دفتر شورای قوماندانان به خبرنگار هفته نامه جهاد هنداره خبرداد که مجاهدین شب ١١ جوزا یك پوسته نظامی رژیم واقع پل الچین ولایت کندز را هدف عملیات چریکی قرار دادند که درنتیجه (٣٠) نفر ازعساکر رژیم بشمول معاون سیاسی پوسته رااسیر نموده اند .

طبق گزارش دراین حمله مجاهدین (٥٠) میل کلاشینکوف،دومیل زیکویك،یك میل دهشکه ، یك میل گرینوف ، یك پایه راکت انداز وسه عراده موترنظامی قوای رژیم رابه غنیمت گرفتند .

مجاهدینو په غور کې دکابل رژیم له منگلو نه ٤٥ کلي ازاد کړي

په (٦) مخ کې

دوتن ازقوماندانان مشهور ملیشه درولایت بادغیس تسلیم مجاهدین گردیدند

بادغیس ، میدیا :
میدیا به نقل ازگزارش قوماندان عبدالعزیز از ولایت بادغیس خبرداده است ، عبدالرحیم وعالم دوتن از قوماندانان مشهور ملیشه رژیم کمونست کابل دران ولایت همراه با ١٩٥ خانواده و ٢٩٥ میل سلاح مختلف النوع به مجاهدین قرارگاه سیدالمرسلین تسلیم شده اند .

همچنان به گزارش جنرال اسمعیل خان ازهرات مواضع نظامی رژیم درولایت بادغیس اخیرا یکبار دیگر هدف حملات مجاهدین قرار گرفته است .

طبق گزارش طی این عملیات که درمنطقه خم عباس انجام گردیده یك عراده تانك ویك موتر به اتش کشیده شده است .

درراپور ازهلاکت ١١ تن از نیروهای رژیم وشهادت دوتن از مجاهدین تذکرداده شده است .

دپکتیایه ولایت کې دمجادینو بریدونه

پکتیا ، میډیا :
دمجاهدینو یو خبر ځای میدیاته رپوټ ورکړی چی اتلو مجاهدینو دجوزا په ٩ مه نیټه په گردیز کی ددښمن په پوځی مرکزونو ددرندو وسلو ډزی کړیدی چی پکی ١٩ تنه نظامی افراد او ٥ تنه منصبداران وژل شوی اوهم دوه زغروال ټانکونه ویجاړ شوی دی.

دیو بل خبرله مخی زړورو مجاهدینو دسیدکرم په ولسوالی کی ددښمن په هدفونو حمله وکړه چی ٤ تنه ملیشیان اسیر اویو تن وځپل شو .

الحاج مولوي جلال الدين حقاني دالمرابطون عربي مجلې سره په مرکه کې :

دخوست عامه شتمنۍ په ملت اوراتلونکي اسلامي حکومت پورې اړه لري او هیڅکله به هم په تنظیمونو پورې ونه تړل شي

په ٢ مخ

علت عقب نشینی مجاهدین در ولسوالی خواجه غار

میدیا ، پشاور :
احمد شاه «مسعود » عقب نشینی مجاهدین از خواجه غار رامربوط به سه عامل بمباران شدیدهوایی ، فیر سکد ونامساعد بودن اراضی درجنگ جبهوی دانست .

وی همچنین گفت ، قوای رژیم از راه خلاف توقع مجاهدین دست به تعرض زد وطبق فیصله شورا که مرکب ازتنظیم های مختلف است بادرنظر داشت همین امر تنها ازشهر عقب نشینی صورت گرفت وقوای رژیم تاکنون این توانایی رانیافته است که درشهر ازتانك ها وزرهپوش ها پیاده گردند ، زیرا مجاهدین در نقاط حاکم برشهر مستقر اند وقوا تحت تهدید جدی مابوده وادعای رژیم درمورد تصرف مجدد تمام ولسوالی عاری ازحقیقت است .

به ارتباط این سوال که رژیم ادعا دارد که بعضی ازمجاهدین راباپول تطمیع وراضی کرده است قوماندان مسعود گفت این ادعای رژیم چیزی نوی نیست باید اذعان کرد که مساله پول هرگز مطرح نبوده ، جنگ هم اکنون جریان دارد .

مسعود تلفات قوای دشمن رادرین نبردها ٥٠ نفر کشته و ٦٠ تن دیگر مجروح،تخریب ٧ تانك وچهار موتر ذکر کرد .

په کویټ کې دهغوکسانو دمجازاتو لپاره داستیناف محکمه جوړه شوه چې له عراق سره دهمکارۍ په تور تورن دي

امریکا غږ راډیو ، دجوزا ٢٠:
دکویټ حکومت دهغو کسانو په مجازاتو دغورکولو لپاره داستیناف یوه محکمه جوړه کړیده کوم چی دکویټ داشغال په وخت دعراق سره دهمکاری په تور محکمه کیږی .

دغه اعلان هغه وخت خپورشو چی یوی پوځی محکمی دلومړی ځل لپاره دیو متهم داعدام حکم صادر کړ .

داستیناف دغه نوی محکمه له دریو قاضیانو نه جوړه شویده .

تراوسه پوری دکویټ داشغال په وخت کی دارتکاب شوو جرمونو ١٥ تنه متهمین محکوم شوی اواوه تنه یی بی گناه گڼل شویدی اوپه سلگونو کسان چی اکثره یی فلسطینیان اوبادنورو هیوادونو اتباع دی دمحاکمی انتظار باسی .

هفتصد ٧٠٠ نفر ازملیشه های قوم نورزایی به مجاهدین ولایت جوزجان تسلیم شدند

جوزجان ، ١٥ جوزا :
به اساس گزارش اداره رسانه های گروهی شورای سرتاسری قوماندانان ٧٠٠ نفر ازملیشه های قوم نورزایی به سرکردگی قوماندان ولی خان (نورزایی) بتاریخ ١٥ جوزا باسلاح های ثقیل وخفیف معه فامیل هایشان درقریه سه شنبه مربوط شهر شبرغان ولایت جوزجان به اثر مفاهمه قبلی بدون جنگ تسلیم مجاهدین شدند .

درپیام مخابروی یك قوماندان مجاهدین ازشبرغان امده است که ملیشه های مذکوربا خود (٧٠٠) میل کلاشینکوف،سه عراده تانك زرهی،چهار میل زیکویك ، دومیل توپ (٧٦) صحرایی (٥) میل هاوان (٣) عراده لاری (٧) میل ماشیندار پیکاو (٦) میل راکت انداز ار، پی ، جی (٧) و (٧٦) صندوق مرمیهای مختلف النوع ویك مقدار کافی مواد لوژستیکی نیز به مجاهدین تسلیم نمودند .

دپاکستان دوه ریل گاډی سره وجنگیدل
٦٠ کسان مړه او څه دپاسه ٢٠٠ کسان ژوبل شول

سکهر ، دجوزا ١٨مه :
دپاکستان دپنجاب ایالت مربوط دسکهر په سیمه کی ددوه ریل گاډیو دجنگیدلو له امله ٦٠ کسان مړه اوڅه دپاسه ٢٠٠ نور سخت ټپیان شول .

دغه پیښه هغه وخت رامنځ ته شوه چی دکراچی څخه راولپنډی ته راتلونکی مسافر وړونکی اورگاډی له خپل خط څخه منحرف اوپه دوهمه لیکه کی له ولاړ داموالو دانتقال له اورگاډی سره وجنگیدو.

دپیښی ټپیان په عاجله توگه روغتون ته یوړل شول اوویل کیږی چی له هغوی څخه دیو زیات شمیرخلکوصحی حالت ډیر خراب دی.

دسالنگ لویه لاره دمجاهدینو له خوا وتړل شوه

دخبری سرچینو درارسیدلو رپوټونوله مخی اتلو مجاهدینو دجوزا دمیاشتی د١١می نیټی راهیسی دسالنگ لویه لاره دترافیکو پرمخ تړلی ده .

په رپوټ کی څرگنده شوی ده چی زړورو مجاهدینو تیره اونی دجوزجان ولایت دسرپل ولسوالی دحاجی اورنگ په سیمه کی دزرهدارو قواو په کتار باندی حمله کړی چی په هغه کی دررژیم ٧٠ تنه پلویان وژل شوی او ٨ عرادی زرهپوشونه دسورلیو سره له منځه تللی او کتار شاتگ ته مجبور شوی دی.

رپوټ زیاتوی چی مجاهدینو دمرجان ، ارنجی ، دنعمان دکلی اودخواجه ارچك دسیمی پوستی نیولی دی چی پدغو نښتو کی هم ٧٠ تنه عسکروژل شوی او ٣٠٠ نور مجاهدینو ته تسلیم شویدی .

سرمقاله

خون ناحق دست از دامن قاتل برنداشت دیده باشی لکه های دامن قصاب را

وسایل مفاهمه جهان گزارش کردندرمحفل ایکه بخاطرتفویض جایزه نوبل به گرباچف رئیس جمهور روسیه در اوسلو مرکز ناروی دایرگردیده،یك دختر افغان باتبارز اعتراضی خویش بیانیه موصوف را قطع نمود ، موصوفه بعدا به خبرنگاران درتوضیح دلیل بلند نمودن صدای اعتراض علیه گرباچف وتفویض جایزه نوبل به وی گفت : سبب اعتراض من این بود که من منحیث فردی از افغانستان احساس مسوولیت میکردم تابا تفویض جایزه صلح نوبل به گرباچف اعتراض نمایم، دستان گرباچف باخون هزاران زن ، طفل ومرد افغان الوده است و من فقط خواستم دراینجا ودرین محفل بزرگ صدای ان ملیونها زن افغان که اولاد ها وشوهران خود را ازدست داده اند وان ملیونها اطفال افغانی که پدر ومادر خود را ازدست داده یتیم شده اند ویاقسمتی از اعضای بدن خویشرا ازدست داده ومعیوب شده اند بگوش گرباچف و بالاخره به جهانیان برسانم

درصفحه٨

په تنگی واغجان کی د رژیم دوه پوستی له منځه تللي

میډیا دلوگر ولایت دیو تن قوماندان دمرکی له مخی ویلی چی دلوگر ولایت مجاهدینو په گډه سره دجوزا په ٩ نیټه دکابل رژیم تنگی واغجان په ستراتیژیکه سیمه د(جمعه قلا) په نوو ځای پرځای شوو پوستو باندی سخته حمله وکړه چی داوړدی راکټی جگړی وروسته نوموړی امنیتی پوستی ویجاړی کړی شوی اودرژیم ٧ کسه ملیشه پکی وژل شوی او ٤ نور یی ټپیان شویدی .

دنفت اوگاز دساتنی په پوستو دمجاهدینو بریدونه

مجاهدینو دجوزجان ولایت په شبرغان ، اقچی اوسر پل ولسوالیو باندی په بریدونو کی دنفت اوگاز دساتنی ١٥ پوستی فتح کړی اودقوی حمله یی په شاتمبولی ده

همدارنگه ٦٠ ملیشه یی وژلی اودملیشه قوماندان سنگی بای یی د٢٥ تنو نورو ملیشه ؤ سره ژوندی نیولی دی .

دروس اوامریکا ترمنځ داتومی میزائیلو په اړه خبری اتری ناکامی شوی

جینوا ، دجوزا ١٦ مه :
هغه خبری اتری چی په جینوا کی دروس او امریکا دبهرنیو چارو دوزیرانو ترمنځ ، داتومی میزائیلو دکمښت په اړه دیوی معاهدی دامضا کولو لپاره ترسره شوی په ناکامی سره پای ته ورسیدلی .

دبی ، بی ، سی راډیو دخبر مطابق ددغی معاهدی امضا دروسیی اوامریکا دمشرانو دراتلونکو خبرواترو لپاره یو لازمی شرط ؤ .

ځینی مبصرین وایی چی کیدای شی دبش ، گرباچوف دغه خبری اتری وځنډول شی .

اسلامي امت بايد له روس - امريکا پرته يوځانگړی قوت اوتشخص خپل کړي اويو متحد اسلامي قيادت رامنځ ته کړي

الحاج حقاني

دجهاد هنداره

مؤسس : الحاج مولانا جلال الدين حقاني

دتأسيس كال : ۱۳۶۹ هـ ش

داور بند ترشادوحشت ښېره !

احمد ضیا« رحیمزی »

وروسته له هغی چی تیره اونی دملگرو ملتو دسازمان دعمومی منشیٔ پریزدیکویار له خوا دافغانستان دکشالی دسیاسی حل په اړه یوه نوی طرحه وړاندی شوه ،په کابل کی دمزدور رژیم مشر نجیب هم دموقع څخه په استفادی سره یو ځل بیا دخپل پوچ او درواغجن سیاست اودیپلوماسی ډگر ته راووت ، اودیوی رادیوتلویزیونی وینا په ترڅ کی یی نه یوازی داچی د«دیکویار »دنویو وړاندیزونو ملاتړ وکړ اودهغی له ټولو مفاداو سره یی خپله موافقه څرگنده کړه ، بلکه دهغی دتحقق اوعملی کولو په لور یی دیوه عملی گام داخیستلو په توگه دخپل رژیم له لوری یواړخیز اوربند هم اعلان کړ.

دابه ډیره زړه او تکراری خبره وی که ووایو چی دنجیب دغه اوربند دهغه دنورو مکاریو او مداری گریو په شان یوازی یوه تشه دخولی خبره اویوه دیپلوماتیکی مانوره ده ، ځکه په کابل کی دثور له کودتا وروسته او دختیزدستر نابغه !! نورمحمد تره کی له اقتدار څخه بیا ترننه پوری زموږ مجاهد ملت اوټول ربنتیا خوښونکی نړیوال په وار وار ددغه ډول اعلامیو اواعلانونو سره مخامخ شوی ، اودهغی دڅرنگوالی اوحقیقت څخه پوره اگاه دی !

داهم جوته خبره ده چی دافغانستان مجاهد او سرتیری ملت او دهیواد په بیلا بیلو سنگرونو کی پراته زموږ فاتح او برمیال مجاهدین ترهغی پوری چی دبهر نه تپل شوی اودهغوی دوسلو په زور ټینگ شوی ، زموږ ددیارلس کلنی جگړی اصلی عامل دنجیب مزدور رژیم دکابل دتاج او تخت واکدار وی ، ددی ډول اوربند منلو ته هیڅ کله ندی تیار ، اونه هغی ته غاړه ایښودلی شی .

دروان لمریز کال له پیل څخه وروسته لاتراوسه چی دهیواد په بیلا بیلو سیمو کی دمجاهدینو له خوا کوم مهم او ستراتیژیك مراکز فتح شوی ، اوکومی ولسوالی ، علاقه داری اوداسی نور مهم نقاط چی دهغوی لاس ته ورغلی ، نو دنجیب دمزدور رژیم له خوا بیا هلته دهوایی او ځمکنی بمباړمان داسی یو طوفان راپورته شوی چی دانسانانومرگ ژوبله خو پریږده چی دهغی سیمی څاروی ، کانی اوبوټی یی هم لاسوځولی دی .

چی دوحشیانه هوایی بمباری ، او ځمکنی توغندیو دویشتلو دغه لړی لاتراوسه هم دهیواد په بیلا بیلو سیمو لکه گردیز ، خوست ، هرات ، تخار، غزنی او ...کی روانه ده .

دهرات ولایت دزنده جان په ولسوالی کی دمزدور رژیم وروستنی وحشیانه عملیات چی پدغه ولسوالی اودهرات په ټولو برخو کی دمجاهدینو دبریالیو فتوحاتو دمخنیوی لپاره ترسره شوی یاترسره کیږی ، دنجیب دیو اړخیز اوربند ماهیت نورهم ښه څرگندوی .

په هرات کی دکابل رژیم دقواوهغه عملیات چی دثور دمیاشتی له نیمایی څخه دځمکی اوهوا لـه لاری دمجاهدینو دمراکزو دنیولو په خاطر پیل شوی و تراوسه پوری ددی ولایت دزرهاووبی وزلو اوبی دفاع ولسی وگړو دمړینی ، ژوبلی اوبی کوره کیدو سبب گرځیدلی ، چی یوازی دجگړی په لومړیو ورځو کی دالمجیل زنده جان

په ۷مخ

دخوست عامه شتمنۍ په ملت او راتلونكي اسلامي حكومت پورې اړه لري اوهيڅكله به هم په تنظيمونو پورې ونه تړل شي

دالمرابطون مجله په خپل ۱۳گڼه كي دخوست لـه فـاتح محترم مـولوي جلال الدين حقاني سره يوه مركه كړيده چي موږ يي دمعلوماتي اوتاريخي ارځښت له مخي پښتو ترجمه درنو لوستونكو ته وړاندي كوو.

استاد حقاني موږته دخپل دجهاد دپيل خبره داسي وكړه : موږ جهاد په ډير بسيط اوساده شكل دافغانستان له سرحداتو نه شروع كړ،له هغه نه وروسته موږپه ميرانشاه ، كابل اوخوست كي مركزونه جوړكړل چي ددي مركزونو نه زموږ مجاهدين دسريه په شكل داخل ته تلل اوعمليات بـه يـي اجـرا كـول ،دغـه كارڅلور كاله دوام وموند ،خو كـلـه چـي دتـره كـي حكومت رامنځ ته شو نو موږ په عمومي توگه دحكمتيار ، رباني اوخالص په اتفاق داخل ته ولاړو.

اوپداسي حال كي موږپه غرونو كي مركزونه جوړول چي هيڅ ډول وسله اووسيله مونه لرله د۱۹۷۸م كال په اتمه مياشت كي موږخپل يو سلسله عمليات پيل كړل چي ډيـر كـامـيـاب وو اومـوږ وكولاي شول يو مقدار زيات غنايم ترلاسه كړو چي دهغي په واسطه موبيا وكولاي شول ددښمن ډير قوي مركزونه لكه ، چبه اوځدران فتح كړو او موږددي مركزونو نه ډيري وسلي لكه دهشكه ، هاوان او...ترلاسه كړي چي موږ مخكي تردي هيڅ نه وي ليدلي .زموږ دغو عملياتو

> زه چي اوله ورځ دكورنه جهاد ته لاړم ۱۲ كسه ؤ ، دويم وار چي ووتو ۷۰ كسان وو ، له موږسره نه وسله وه ، نه مخابره ، نه شفاخانه،نه طبيب ، نه مهمات اونه ... موږدخداي په فضل جهاد پيل كړ

تـر كـال ۱۹۷۹ پـوري دوام درلود ، خو كله چي روسانو زموږ پرهيواد مستقيم يرغل وكړ نوزموږ جهاد لكه چي تاسي پوهيږي بل رنگ ځانته غوره كړ .

حقانـي دجهـاد لـه ټولـو قوماندانانو سره ښي اړيكي لـري چـي دقـومـانـدانـانـو دسرتاسري شورا دمشرتابه په څنگ دخوست دقوماندانانو امير هم ټاكل شوي دي.

المرابطون : - موږتاسو ته دخوست دفتحي مباركي وايو ، اودلوي خداي نه غواړو چي پـه دي نږدي وختـونو كـي كـابـل ، اونـور دكـفـارو ترتـسـلـط لانـدي اسـلامـي هيـوادونـه هم فـتـحـه شي مهرباني وكړي لطفا موږ ته دخوست دستـراتـيـژيـكـي اهميت په اړه اودافغانستان پرمسئله دخوست دفتحي داغيزو په هكله كه معلومات راكړي ؟

استاد حقانـي :- لكه چي پوهيږي خوست دافغانستان دڅلورو مهمو ستراتيژيكو منطقو څخه دي چي ډير مهم اوحياتي ارځښت لري .له همدي كبله دكابل حكومت دغـه منطقـه په ډيرو پرمخ تللو وسلو مجهز كړي وه .

دخوست اهميت په دي كي هم دي چي له پاكستان سره سـرحـدي پـولـه،دمـوټـرو اوټانـكـونـو دلـسـونـه زيات سركـونـه لري اوهمدارنگـه دافغانستان داخل ته يوولس نوري لاري هم لري چي ددي لارو اهـمـيـت دزخـمـيـانـو اوشهيدانو په نقلولو اودوسلو دليږدولو په وخت كي ښه معلوميږي .

بله داچي ددي ځاي خلك په شجاعت اوجنگ كي هم ښه مهارت لري په تيرو وختونو كي هم دوي وو چي انگريزانو ته يي سخت شكست وركړ اوهغوي يي له هغه ځاي نه ميرانشاه اوبيا بنوں ته په بيرته تلو مجبور كړل .

خـوست پـس لـه كـابـل نـه دمزدور رژيم دويم مهم مركز وو چـي هـرډول وسـلـه ، امـكـانـات اودجاسوسـانـو اوپـيـسـو پـه ليږلـو يي دغـه نقطه ډيره زياتـه تقويه كړي وه .

خوست زراعتي منطقه هم ده ډيري وني لري چي دفتحي نه وروسته دامنيت له مخي دمجاهدينو له پاره ډيره مهمه سيمه گڼله كيږي داسيمه ددښمـن لـه نږدي مـركـزونـو څخه لري اوشاوخوا يي لوي لوي غرونه پراته دي .

همداكافـي ده چي پـوه شو دښمـن فـقـط دوه واره دلتـه

> موږبه دخوست دلارو نه داستفادی قدردنورو ځايونو په فتح كولو كی هيرنكړو اوداكارزموږ دفتحی وخت رالندوی

راغلي ،يو وار دځمكنيو له لاري اوبل وار دځاځيو دلاري نه اوشايد همدا موضوع وي چي خوست تـه يـي جهانـي حيثيت وركړي دي .

ددنيا خلكو ويل : كه چيري مجاهدين دخوست په فـتـح كي بريالي نشي نـو دوي بـه كابل چيري هم فتح نكړي .

تعجب به ونكړي كه پوه شي چي خلكو خوست ته وړوكي مسكو وايـه ولـي چـي دلتـه ډيـر زيـات كـمـونـسـتـان وو دكـابـل دحـكـومـت اكـثـره جنرالان ، مـشران او وزيـران دهمدي منطقي څخه وو چي دهغوي اخرني فردنجيب دي

مـوږ بـه اوس ددي منطـقـي زراعـت اوتجـارت تـه ښـه پاملرنـه كـوو او همداراز بـه مـوږ دخـوسـت لـه لارو چـي مـنـجـل ، نـادرشاه كـوت ، زرمـت ، وردگـو ، غـزنـي اونورو منطقو ته تللي دي سمـه اودرستـه استفاده كـوو څو پـه ټول افغـانسـتان كي دجـهـاد پـه گـتـه تـري كاروا‌خستل شي .

المرابطون :- دخوست فتح دخـداي لـوي احـسـان وو ، اوټول هغه دسايس اوتوطئي لكـه دسياسي حل خبره ، دظـاهـرشـاه بـيـرتـه راتـگ ، دغـرب اودهـغـه دمـلـگـرو سازشونه يي شنډ كړل ، په دي بـاره كـي سـتـاسـو نـظـر څرنگه دي ؟

استاد حقانـي : داټول دخداي پـه فـضـل وشـول ،ددښـمـن دماتي نه وروسته په خوست كي بيلـه شكـه بايد غرب ته وويل شي چي مجاهدين په پوځي لحاظ كولي شي دښمن لـه شرمـيدلـي مـاتـي سـره مخامخ كړي پـه ربنتيا هم چي دخوست لـه فـتحي سره دنړيوال استـعـمـار توطـئي اودسيسي لـه نـاكـامي سـره مخامخ شوي .

دخـداي پـه فـضـل اوس دمجاهدينوقواوي په گرديز كي نظرخوست ته څو چنده زياتي اوپياوړي شوي دي ، مـوږ بـه دخـوسـت دلارو نـه داستفادي قدر دنورو ځايونو پـه فـتـح كـولـو كـي هـيـرنـه كړواودا كـار زمـوږ دفـتـحـي وخت رالنډ وي .

المرابـطون :- مـوږ دخوست ښار نـنـداره وكـړه اودالـويـه فـتـحه مو پـه خپلـو سترگو ولـيدلـه كه مـهربـانـي وكـړي مـوږ تـه دخـوسـت دامـنـيـت اواداري په هكلـه توضيحات راكړي ؟

استاد حقاني :- پدي رابطه نـن دخـوسـت دشـورا غـونـډه جـوړيـدونـكـي ده مـوږ لـدي مخكي هم په ډيرو مسايلو موافـقـي تـه هـم رسيدلـي يو چي پـه هغـه كي دمهاجرينو بيرته ستنيدل او دولجه شوي مالونو دټولولو لپاره ديوي كـمـيـټـي تـشـكـيـلـول دي ترڅوثقيلـه وسلـه غونډه اوپر گرديز دجگړي لـه پاره اماده كـړي شـي اوهـمـداراز مـوږ دمـنـطـقـي داداري اوامـنـيـت دنيـولـو پـه رابطـه هم خبري وكړي اوپـه يـوه واحده اداره موافقي ته رسيدلي يو .

المرابـطـون :- غواړم پـوه شم چي تـاسـو داداري اومـحـلـي محاكمو په رابطه څه طريقه

په ۷مخ

چه باید نمي کردیم ؟

مولانا عبدالمجید

نبي کریم (ص) فرموده اند که : مؤمن ازیک سوراخ دودفعه گزیده نمي شود (الحدیث)

درمسیر زند گی جوامع بشری مسایل وموضوعات مختلف رونمامیگردد که هر موضوع ومسله ازیك منبع نشات کرده وعلت اش هم اکثر اوقات اشکار میباشد که معلول ان طبعا هویدا است ، اما اشخاص وتوده های مردمی این رویداد های (خوب ، بدومتساوی الطرفین) وعکس العمل های ان را درزندگی خود ازنظر علم ودانش ودرك که از اینها اخذ نموده پشت سرنمیگذارند واگر بگذارند چنین علم شان باعث خروج وی از چوکات علم ودانش میگردد .

سوال پیدا می شود که چنین اشخاص اگر عالم هستند پس چرا مطابق علم خود عمل نمی کنند واگرعمل میکنند چرا عملشان متفاوت باعلم اثان است .

اشخاصیکه دربین علم وعمل شان مطابق نباشد ، عالم نه بلکه جاهل تلقی می شود .

اشخاص بادرك وحقاق اعمال وافعال شانرا وهم چنان جامعه شان را از نظر دور نمی گذارند وبر فعل انجام شده شان می اندیشند که نتیجه اش چگونه بوده واثرش دراینده چه خواهد بود ؟

صاحبان دانش وهنر دقیق می سنجند واهسته قدم برمیدارند وجای قدم میگذارند که استحکام داشته باشد اگردر قدم شان لغزشی صورت گیرد بار دیگر بتناسب مرحله اول به اندازه کافی متوجه میشوند ، زیرا که درمرتبه دوم نیز دچار مشکلات نشوند .

نبی کریم (ص) فرموده اند که : مومن دودفعه ازیك سوراخ گزیده نمی شود (الحدیث)

ما نمیگویم که انسان عاری از خطاها لغزش ها وسهوها باشد ، زیراکه انسان ممکن ومخلوق است ، ممکن ومخلوق صد درصد بدون ازعیب نمیباشد ، بلکه امکان ندارد که انسان از خطا وناشایسته کاری منزه باشد بغیر از انبیا (ع) که انبیا (ع) بنده گان ایزد متعال است وایشان (ع) رابرای ملل جوامع ونسل انسان فرستاده اند تاازتاریکی وظلمت بطرف روشنی سوق نمایند ومقام شایانی داشتند

هرشخص باخردیکه عملی را انجام میدهد عکس العمل وحیثیت عمل اش را درچهارچوب شریعت ودین مبین اسلام ازنظر دور نمیگذرد پس هرذیعقل وباشعور که قول وفعلی را انجام میدهد اولا باید درپرتو عقیده خود با همفکران وهوداران خود مشوره بکند ، زیرا هرعقیده در افعال واقوال جوامع شان وقیمت ارزنده دارد ، به ویژه اهل ایمان واسلام باید درین مورد توجه جدی داشته باشد زیرا عقیده ء اسلام برای جوامع عقیده جاودانی وتغیر ناپذیر است .

برای هریك از منورین ، علما و روسای جامعه اسلامی لازم است که برای اینده تصامیم وتدابیر شایسته یی را اتخاذ نمایند وازکارهای انجام شده شان درس عبرت بگیرند یعنی از تکرار اشتباهات وخطاهای انجام شده ابا ورزند ، تا بدینوسیله کارها بمرور زمان بهتر وارزنده تر شود.

هرشخص مسلمان وقتی مومن کامل خواهد شد که از اوامرو اساسات اسلام اگاهی داشته باشد نبی کریم (ص) فرموده اند ، کسیکه محبت می کند برای خوشنودی خداوند (ج) درهر مورد وباهرچیزیکه باشد وبغض میکند برای رضای پروردگار وچیزی میدهد بخاطررضای الهی ویاچیزی منع میکند بخاطر پروردگار یعنی انکسیکه محبت ، کینه ، بغض ، عداوت ، دادن ومنع کردن همه وهمه را برای رضای خداوند (ج) میکند ، این شخص دارای ایمان کامل است .(الحدیث)

اگر ما دیروز مسوولیت خود را درك می کردیم ممکن امروز دچار این مصائب نمی بودیم ، خلقی ها ، پرچمی ها ... اینها همه فرزندان ، پسران ، برادران و ... ماوشما بودند وبرما حق داشتند که برایشان درس اخلاق وروش اگاهانه اسلامی رامی اموختیم که از اخلاق ودورنمای اسلامی وحقیقت دین وایمان اگاهی حاصل می نمودند انگاه هرگز خلقی پرچمی و ... نمی شدند برعکس پدران ، مادران و ... ازیچه هانمی پرسیدند که کجا بودند وچه کاری را انجام دادند وبه سبب عدم توجه به تربیت فرزندان خود سرانه بزرگ شدند وهیچ کس مانع کار منفی شان نمی شد که بالاخره خود وجامعه خود را در ورطه افات مبتلا کرد .

پس چه باید نمی کردیم ؟

از اوامرو نواهی خداوند (ج) وپیغمبر (ص) خلاف ورزی نمی ورزیدیم زیراکه نافرمانی امر خداوند وپیغمبرش سبب گناه وطغیان وبالاخره استمرار به معصیت به کفر منجر می شود .

درهیچ موضوع ومورد دروغ نمی گفتیم ، زیراکه دروغگویی سبب لعنت خداوند (ج) میگردد ویك خاصه از خواص منافقت است

درقول وفعل خود خیانت نمی کردیم ، زیراکه خیانت همه خاصه از منافقت است .

حق مردم رانمی خوردیم بخصوص حق یتیم ، بیوه وشهدای انقلاب اسلامی افغانستان را .

عهد شکنی نمی کردیم ، زیراکه عهد شکنی هم یکی از خواص منافقت بشمار میرود .

شخصیت پرستی ، تکبر ، افتخار ، حسد ، کینه توزی ، فحشاگری (به هرنوع که

درصفحه ٦

هند یو ځل بیا "غزنوي" تهضرورت لري

سید شهریار

په هند کي دلسمي دوري په انتخاباتو کي چي له ٥٠ څخه زیاتو ګوندونو برخه درلوده ، هریوه ګوند دزیاتو څوکیو دترلاسه کولو لپاره هلي ځلي کولي

پدی وروستیو وختوکی هند دبی شمیره داخلی بحرانونو سره لاس په ګریوان دی .

اوهندی واکمنان دظلم اوستم سره سره بیاهم بریالی نشول چی دوړو ،زړو ،ښځو اوځوانانو ددغو بحرانونو مخنیوی وکړی اویا دهند ټولی فرقی سره په یوه پریکنده فیصله متفقی کړی .

که له یوی خوا دپنجاب اواسام په لویو ایالاتو کی راپاریدونکی دخپلی ازادی لپاره له خپلو سرونو څخه تیریږی نوله بله پلوه په ټول هند کی دمسلمانانو او متعصبو هندوانو ترمنځ دبابری جومات سنګینی کشالی سراپورته کړی چی دغه کشاله یواځی دهند دمسلمانانو لپاره نه بلکه دګردی نړۍ دمسلمانانو لپاره یو چلینج دی اوله دی پرته په نیول شوی کشمیر کی دازادۍ دپتنګانو هغه بریالی غورځنګونه موجونه وهی کوم چی دخپلو وینو په ورکولو دازادۍ درشل ته ځانونه رسوی .

دکشمیریانو دغی اسلامی مبارزی ددوکالونو په موده کی هندی واکمنانوته ډیره تاوجنه بڼه غوره کړه چی په ځپلو کی یی په بشپړه توګه ناکام شول که څه هم په وژلو اوزورولو اوحتی دکوچنیانو نجونو دعزت اوابرو په خاوری کولو یی هم لاس پوری کړ ،خوبیا هم دغه پاڅون شیبه په شیبه دارامیدو په ځای لاپیاوړتیا ومونده ! هندی واکمنان داټول ناروا ظلمونه فقط دهمدی ټکی لپاره کوی چی دازادۍ دغه مبارزه سره اوخپله واکمنی پری برقراره وساتی خوپخپل مقصد اوهدف کی په بشپړه توګه ناکام اوخپرسترګی شول .

نوځکه اوس هند یوځل بیا سلطان محمود غزنوی ته ضرورت اواړتیالری ترڅو هند له دغو بی شمیره قومی، مذهبی اوسیاسی بحرانونو څخه صحیح سلامت وباسی ، سومنات ټوټه ،ټوټه او په هند یوځل بیا داسلام سپیڅلی توغ رپاند کړی همدغه درنی کشالی وی چی ددووکالوپه لنډه موده کی یی ددریو حکومتونو تختی نسکوری کړی اوله سره یکی دنوو انتخاباتو اعلان وکړای شو.

په هند کی دلسمی دوری په انتخاباتو کی چی له ٥٠ څخه زیاتوګوندونویکی برخه درلوده اوهریوه دزیاتو څوکیو دترلاسه کولو لپاره هلی ځلی کولی ، ددی ګوندونو څخه (کانګریس ای) هغه ګوند دی کوم چی دمتحده هندوستان دویشل کیدو په ٤٥ کلن تاریخ کی ٤٠ کاله دواکمنی په ګدۍ ناست تیرکړی . اودپنځو کالو دالړه موده دنورو ګوندونو دحکومت کولو نصیب شوی هغه هم پدی شرط چی دغه ګوند (کانګریس ای) یی ملاتړ کړی وی اوچی کله یی تری لاس اخیستی نوپخپله په څمکه راغورځیدلی ، ددغه ګوند دبریالیتوب زیاته وجه همداکیدای شی چی تل یی ځان بی طرفه بللی هم یی دمسلمانانو رایه ترلاسه کړی اوهم دهندوانو ، د ١٩٨٩ م کال په انتخاباتو کی دغه ګوند دنورو ګوندونو په پرتله ترټولو زیاتی څوکۍ وګټلی خوپه پارلمان کی یی قطعی بری ترلاسه نکړای شو نو یی دحکومت کولو پرځای داپوزسیون ناسته غوره کړه : چی په نتیجه کی دنورو ګوندونو په ملاتړ د (جنتادل) ګوند دمشر(وی پی سنګ) حکومت جوړ شو! دده سره په حکومت کی ځنی هغه متعصب اوداړه مار هندوان هم شامل ؤ کومو چی خپل ټول عمر په اسلام دښمنۍ اوبی ګناه مسلمانانو په عامه وژنه کی تیر کړیدی نوکانګریس له دغه ټکی څخه فایده واخیسته اودهندوانواومسلمانانو په منځ کی یی دبابری جومات زړه کشاله یوځل بیا رامنځ ته کړه ترڅو ، د (وی پی سنګ) حکومت له مشکلاتو سره مخامخ کړی نوهمغه وه چی دوخت صداعظم(وی پی سنګ) دجومات ورانولو په ځای دخپل حکومت ورانیدل غوره کړل خودجومات ورانیدوته یی غاړه کینښوده چی بیا وروسته دکانګریس په ملګرتیا چندر شیکر یوګوداګی حکومت جوړ کړ چی هغه هم تر ډیره دوام ونکړ اوډیر ژر په ځمکه رانسکور شو .

دکانګریس دغو ناوړو کارونو په مسلمانانو ډیری بدی اغیزی وکړی اوترډیره حده یی ددغه ګوند دملګرتیا په ځای د(وی پی سنګ)سره ملګرتیا اعلان کړه تردی پوری چی دډیلی دلوی جومات پیش امام مولانا عبدالله شاه بخاری په ډاګه اعلان وکړ چی مسلمانان باید خپلی رایی د(وی پی سنګ) ګوند ته ورکړی دغه کار د (وی پی سنګ)دمورال په اوچتولو اودکانګریس دګوند دمشر (راجیوګاندی) دمورال په راښکته کولو کی یوځه اغیزه وکړه . ددی ترڅنګ دمتعصبو داړه مارو هندوانو څخه جوړ شوی ګوند کوم چی د (بهارتیه جنتاګوند) په نوم یادیږی په پوره زوړ اوشورمیدان ته راوتی ؤ اوخپل ناوړه اوزهرجن تبلیغات یی په ډیره لویه پیمانه په خلکو کی خپرول خوهغه وخت په ټولو باندی سړی اوبه تویی شوی کله چی دانتخاباتو یوه مرحله ترسره شوه اوددوهمی مرحلی څخه دوه ورځی مخکی دمی دمیاشتی په ٢١ نیټه دکانګریس دګوند مشر راجیو ګاندی دمدراس نومی ځای څخه ٥٠ کیلو متره لری دانتخاباتی مبارزی په دوران کی دیوه «ریموت کنټرول » بم په چاودنه کی له منځه لاړاو انتخابات دبلی میاشتی د ١٢- ١٥ نیټی پوری وځنډیدل که څه هم دده ترورکوونکی تراوسه پوری نه دی پیژندل شوی خوبیا هم دده ترور په هند کی دنورو خونړیو بحرانونو سبب ګرځیدای شی اوداځکه چی دده ترور سیاسی اومذهبی برخی تمثیلولای شی که څه هم دحکومت یوه ویاند

په ٦ مخ

جهادي ادب

زما دزړه دزخم هره موسکا لاره څاري
زما دقام ديوه روښانه سباوون په مينه
داسکيرلي خوننګيال ولس دوينو څپي
غورځي دخپلو تقديرونو دبدلون په مينه

لنډۍ

ځارشو
راځې چې ټول تروطن ځارشو
خداى غيرتي دى غيرتي سړى ساتينه
خداى برباد کا
روسي‌سيستم دې خداى برباد کا
دوى په نړۍ کې انسانان تباه کوينه
نه ويريږي؟
روسان به ولې نه ويريږي؟
له هره ناوه دتکبير نارې راځينه
پوه کړو
راځې پردې خبرځان پوه کړو
چې يو يووالى به برى منځ ته راوړينه
شهيد شم
ربه دتاپه لارشهيد شم
چې مجاهد مې پخپل لاس دفن کوينه
راکړي
دګل دسته په لاس کې راکړي
چې په شهيد يار باندې واچوم ګلونه

دخوست فاتح ته سلام

مولانا «قريشي»

دخوست فاتحه ستاغيرت اوشهامت ته سلام
دنيك بختۍ مشتري ستوری دجهاد په ډګر
خلق اوپرچم څه ، کمونيزم لياره ورکه کړله
الله دې نور قوت هم درکړي حقاني صاحبه
کمونستان به په شرمو وي نابوديږي به تل
ستاله قرانه سره دالوړ صداقت ته سلام
کمکی مسکوږخوست الله (ج) تاته نصرت کړو نصيب
فولادي مټودې په زور دخوست چونۍ کړه فتحه
نوم دې ډېر لوړو پسې لوړ شو نور دې هم کړی رب لوړ
دنيا به څه وی ؟ دالله (ج) په دردې لوړشي ستانوم
دقهرمانو قوماندانه ستاشوکت ته سلام
الله (ج) درکړی دينی علم صداقت ورسره
په محبت دپاك رسول (ص) تيريی ترمال اوترسر
الله (ج) دې درکړي دمحمودِ بت شکن په شان زور
په عملي ډګر کې فتحې دې په سترګو وينو
دتاريخ څوانه ستاوجود اوستا همت ته سلام
مسلمانان به ستا په ژوند باندې نازيږي مدام
ښځې او نر زاړه واړه درته دعاوې کوي
دادې پښتي ده په خپل ژوند کې به دې رب وي نصير
الله (ج) دې تل لره برحاله حقاني صاحبه
ستاپه جهاد کې حوصلې ، استقامت ته سلام
يونوی روح په مجاهدو کې رب بيا راوسته
دخوست دفتحې په اواز سره ژوندي شول زړونه
اوس به دړب په فضل داسې په شرمو شرميږي
اوس مجاهدقوت ټول پوه شو دوحدت په مزه
قريشي ستاپه شعر کې نغښتي حقيقت ته سلام
ستا قوي عزم او دويار داقيادت ته سلام
نوم دې خنجردی دخلقی اودپرچم په ځګر
تغر يې ټول شو له نړۍ‌به يې هم ټول شي بستر
چې کمونيزم نور بدحال شي اوله بدو بدتر
غږدې هيبت دی، زلزله ده دروسانو په سر
ستاقوي عزم اودويار داقيادت ته سلام
نيت دې سوچه وُچې مولیٰ درته قوت کړه نصيب
امام شامل ثاني لقب درته عزت کړه نصيب
ستا دغې فتحې په دنيا کې عظمت کړه نصيب
رب دې رضا حوروغلمان اوښه جنت کړه نصيب
ستاقوي عزم اودويار داقيادت ته سلام
قوي ايمان ښه جذبه او محبت ورسره
مال اوسرڅه وروڼه عيال دغه خپل پت ورسره
هم اتل والی شاهکاري اولوی طاقت ورسره
دغرو شهبازيې دشاهين په شان قوت درسره
ستا قوي عزم اودويار داقيادت ته سلام
ستا بدخواهان به جګرخون په اورسوځيږي مدام
ستاپه جهاد دشهيدانو روح خوښيږي مدام
په کاميابي دې مؤمنان خوشحاله کيږي مدام
الله(ج) دې مل شه زموږ دادرته لوړ يږي مدام
ستا قوي عزم اودويار داقيادت ته سلام
ښه جذبه يې دوحدت پکې مولیٰ راوسته
دکفري نظم او نجيب ورکه الله (ج) راوسته
په دې وطن کې درحمت دوره رب بيا راوسته
اوس منافق ته لوړ بادار ورکه رښتيا راوسته
ستاقوي عزم اودويار داقيادت ته سلام

لنډه کيسه

داخترجامې

محمد عارف ننګيار

شين ګل په غوسه کی ورته وويل : تاخوهمدايوه خبره نيولی چی ماشوم دی ، اخترته خوشاليږی زه هم پوهيږم ، ماهم ورکتوب ليدلی خوڅه وکړم چی نه يی څوك پورراکوی اونه هغه دپلار نه راپاتی دوه پولی ګرو وی ، نوڅنګه يی کړم . خيردی هغه زړی جامی يی ورته ووينځه .

.ولی نه پوهيږی دايوه اونۍ وايی چی په اختر کی به مې شنی جامی اغوندم .

– دادوه کاله خودی ورته ونه کړی ، ټوپك دی بانه کړی اوله هرڅه دی ځان پری خلاص کړی ، مجبوره يم چی داچرګی مې وپلورم اوجامی ورته وکړم .

– اوښحی ته په سمه نه پوهيږی ، داټوپك خومی اخيستی همدغو بی دينانو لپاره دی کوموچی له دغسی حال سره مخامخ کړی يو . زه به ددی ټولو کړاوونو اوبی وسيو بدل په همدغه ټوپك اخلم که نه «خدای داد » له تاپه ماډير ګران دی ، ته خولې دانورو خلکو ته وګوره ، ټول خلك لکه مونږ مجبوره اوحيران دی ، بيا چی چرګی خرڅوی له دی ښه خبره چيرته ده ، چی خدای(ج) می لاس وچلاوه ددووپه ځای به څلور درته واخلم .

– نه می دی څلورپکار دی اونه شپږ چی داپه هګيوګډه وپلورم بياچی هرڅوراته واخلی پری خوشحاله به نشم.

دکافرانو دی کور وران شی.

خدای (ج) دی همداسی خوار وحيران کړی لکه مونږ يی چی کړو ،

چی نه مو اختر مالوم دی نه بله خوشالی .

پدی ډول دشين ګل ميرمنی خپلی دوه ګرانی چرګی يوه په دوه سوه اوبله چی هګی يی اچولی په دری سوه افغانيو وپلورلی اوزوی ته يی پری پنځه ګزه ټوکر راونيو ، ټوله شپه [3] په ګنډلو په ويښه تيره کړه . چی سبا شو شين ګل ته يی وښودلی ، شين ګل چی جامی وليدلی ډيرخوس شو، ميرمنی ته شله شوچی يوځل يی «خدای داد » ته ورواغوندی چی پری جوړی دی که نه ؟ خوميرمنی يی ورسره ونه منله اوويل يی چی سبا ته اختر دی دومره وخت ندی پاته ، نن يی نه وراغوندم .

شين ګل هم چی پخپلو پيسونه ؤ رانيولی ، نورله شرمه ورته کلك نشو .

داختر شپه وه ، ولی خوښيو اوهوسونو ځای ، غمونو ، ويرونو ، انديښنو او تشويشونو نيولی ؤ،نه دچا نوی جامی وی اونه هغه دپخوانيو اخترونو رنګارنګ ميوی ، خواږه اواختری ، ټول خلك داختر له راتلو په نه راتلو خوشاله وو ، ځکه ترنورو ورځو په اخترکی دروسی قواو دراتګ امکان زيات ؤ

تردی مخکی دوه کاله په دواړو اخترونو کی قوه راغلی وه اوبی شميره بی ګناه ښځی ،نرېی شهيدان کړی وو.

شين ګل هم لکه دنورو داندېښنو په ډنډکی ډوب شوی ؤ، خپل تيرژوند اوبيادراتلونکی ژوند له مسؤليته ډك مزلونه ، دخپلو همسنګره ملګرو شهادتونه ، دتيرو اخترونو په ورځوکی په غرونو رغونو ، تېرې ورې ګرځيدل او. . . . يو، يوله سترګو تيرشول ، يوسوړ اه يی وکيښ اوچی سريی راپورته کړ ګوری چی ميرمن يی دخپلو زړو جامو ځوپنډکی رااخيستی اوپکی په څه لتولو بوخته ده ، په سترې زړه يی ورته وويل : دابيادی څه جنجال رااخيستی ؟

څنګه يی کړم دايوزوی دی رابانډی ګران دی داختری ټولولو لپاره دسمال ورته لټوم .

ميرمن يی په خواره خوله ورته وويل .

له څه لټولو وروسته يی دناويتوب دوخت دلاس دسمال څوځله ښکته کراوپورته کړ ، زړه يی پری نه کيده خوداچی بل يی ونه مونده مجبوره شوه هماغه يی راواخيست اود «خدای داد » له جامو سره يی کيښود . بيايی زوی په زورراکښيناوه اوپه خواری يی لاسونه په نکريزو ورسره کړل ،په زړو ټوټو يی وروتړل اوبيايی په بستره کی څملاؤ.

د«خدای داد » چی لاسونه تړلی وو ټول ځان يی خارښت کاوه ، کله ډډو ، کله متهواوکله پښو.پدی ډول ترسبانه دی ويده شوی اونه يی خواره مور خوب ته پريښوده .

شين ګل خوچی ماسخوتن ډوډۍ‌وخوړله بياپيری ته لاړ ځکه داختر په شپوکی به روسانو حملی کولی ترڅودمسلمانانو دغه اسلامی خوښی په غم اوويربدله کړی.

نومجاهدينو به هم ددغه احتمال له امله خپل پوره تياری نيولو .

سهار وختی دشين ګل ميرمن پاڅيده اوورسره يی «خدای داد » هم پاڅاوه ، دهغه لاسونه اوځان يی ووينځه ، بيايی اودس ،لمونځ وکړ اودزړه له اخلاصه يی خپل خدای (ج) ته دعا وکړه چی دروسانو وحشيانو قوه رانه شی اوله هغه وروسته يی اور بل کړ ترڅو ډوډۍ‌وختی پخه کړی ، ځکه داختر دلمړی سهار چای به خلکو يوځای په جومات کی خوړ .

چی ډوډۍ‌پخه شوه «خدای داد » يی په پلار پسی ولیږه چی راشی اوجومات ته چای يوسی ، زوی يی چی ورته دجامو اغوستلو وويل ورته په غوسه شوه اووی ويل : څه چی چای دی جومات ته يووړی بيايی دراغوندم ، تراوسه يوه هلك هم نه دی اغوستی .

خدای داد له خوشحالی نه په ډکو ګامونو منډه کړه اودادچايو په برابرولو لګيا شوه ، څو لحظی به نه وی وتلی چی دکفارو توپونو څمکه ولړزوله اودوړی يی پورته شوی ، دشين ګل ميرمنی چی دزی واوريدی وارخطا شوه او دپيالو ډك پتنوس يی له لاسو پريوت اوټولی پيالی ميده ، ميده شوی.

دپيالو دماتيدلو غم له يوی خوا اودشين ګل ويری له بلی خوا په ښځی رنړا ورځ توره شپه کړه ځکه دوی ټولی همدغه پيالی درلودی چی ماتی شوی ، نو دهغو په ټولولو ژر ژر لګياشوه ترڅو شين ګل راځی چی ټولی سوی وی .

دی به لاڅه ټولی کړی وی چی دخلکو غړاو زوږ يی ترغوږشو اودانګړ دروازه وازه شوه چی دپلو ترخوا يی وروکتل ګوری چی چاماشوم په غيږ کی نيولی ، ورته ځير شوه ، ويی پيژاند چی «خدای داد » دی په وينو تك سور ، منډه يی کړه په کوټه ننوته ، خلك بيرته راووتل دی يی غږ واوريد چی ويل يی ژر کوی هلکواسباب راواخلی قبروکينی .

کريغه يی کړه اوپه منډه ورننوته که ګوری چی خدای داد مسکی په وينو لت وپت پروت دی داسی لکه ګل چی له ډنډره چاشکولی اوغورځولی وی لاس يی وکوت ، مخ ته يی لاس وروړخو ...!

ورته چيغه يی کړه : زويه ! واخله ! واغونده داخترجامی دی !! ولی ؟! ظالمانو ، کافرانو ! داموڅه وکړل ؟! دخدای داد داخترجامی...!!!

دوولسمه برخه :

په افغانستان کې دکې ، جي ، بي ورانوونکې فعالیتونه

داکسا ، کام ،خاد ، واد - تشکیلات ،فعالیتونه او جنایات

عبدالوکیل

دځو میاشتو څخه وروسته دپرچمیانو له خوا داسې تبلیغیده چې دخلقیانو اوپرچمیانو په منځ کې دتضادونو دراپیداکولو اصلي عامل «امین » ؤ خو روسانودا۱۳٤٦ هـ ش کال څخه راواخله بیا تر ننه پورې خلقیان په یوه لاس کې نیولي اوپرچمیان یې په بل کې کله یې سرونه سره گټي (جنگوي)اوکله یې دیوه اوبل سره دوفاداری اومحبت په نوم غیږ په غیږ کوي اودواړه ډلې دخپلو استعماري اهدافو په ترلاسه کولو کې دلاس الې (وسیلي) په توگه استعمالوي .

دثور په اوومه نیټه دورځې په پنځو بجو دخلق اوپرچم ډلو ملکي غړوته دستور ورکړل شو چې دکابل ښار په هغو سیمو کې چې دکودتاچیانو تر تسلط لاندې راغلي دنظامي قواؤ سره هغسې مرسته وکړي چې له لاسه یې کیږې اودایې په ټینگه ورته وویل چې که چیرې څوك درڅخه پوښتنه وکړي چې داڅه پیښه ده نو ورته وایی به چې :داچې هره پیښه ده ستاسو په گټه ده اوبس نور به هیڅ نه وایي .

دارگ شاوخوا خصوصا دارگ جنوبي برخې ته دکابل ښاریانو په داسې حال کې چې سرې گولۍ اوریدلې هومره گڼه گونه جوړه کړې وه چې کودتاچیان یې په تشویش کې واچول .
همداځای ؤ چې دخلق اوپرچم ملکي غړو تپانکونو ته دښاریانو دنږدې کیدو څخه مخ نیوی کاوه اوکله چې ماښام په اووبجو درادیو څخه دداؤد دځپل کیدو خبرخپورشو اویو شمیر ملکي خلقیان اوپرچمیان راڅرگند اوخلکو هغوی وپیژندل نوپه هغه ځای کې اکثریت خلکو وویل چې داخوښه کارونه شو.

د۱۳۵۷ هـ ش کال دثور په اتمه نیټه دغرمې وروسته په دووبجو دکابل پوهنتون یو شمیر هغه محصلین چې له اسلامي تحریك سره متعهد وو دپوهنتون شمال ته دلوړې غونډۍ پرسر راټول اوعاجله غونډه یې جوړه کړله دڅو دقیقو څخه وروسته دغو محصلینو غونډې پریښوده اودهغه ځایه څخه بیرته پوهنتون ته ورستانه نه شول اودکودتاکوونکو ضد فعالیتونو پخاطر دکابل ښاراودهیواد مختلفو منطقو ته ولاړل .

دثور په ۸ نیټه دداؤد طرفدارو قواؤ دجلال آباد څخه دکابل په طرف حرکت پیل کړخو کابل ته لانه وې رسیدلي چې دهوایي بمباریو په واسطه یې دتعرضي فعالیت څخه وایستلې .

> **کله چې کودتاچیانو ماښام په اووبجو دداؤد ځپل اعلان کړل داؤد لاژوندي ؤاما دداؤدد ځپل کیدو خبریې دداؤد قواؤمورال دراټیټولو په خاطرخپور کړ.**

دداؤد دولایتونو نورې نظامي قواوې په مرگ راوړونکي انتظار کې پاتې شوې خوهغسې چې داؤد ته دظاهر قواؤ دتبریکی او تسلیمی تلگرامونه راولیږل دداؤد قواؤ ددې کارڅخه ډډه وکړه اوله کودتاچیانو څخه یې ملاتړ اعلان نکړ (دافغانستان نظامي ، جغرافیوي اوټولنیز حالات دوروستی یوې پیړۍ په اوږدوکې داسې حالت درلود چې هرچاپه کابل کې قدرت ترلاسه کړی وای اویا یې ترلاسه کاوه نوداپه ټول افغانستان کې دقدرت نیولو په مشابه ؤ خو دافغانستان مسلمان اوپتمن ولس به چې کوم پاچا اوقدرت مندخوښ نه شوو نوتورې اوټوپك ته به یې لاس کړ اودغروراو دبدبې تاج به یې دهغه له سره دتورې اوغشي په زور لیرې کړ) .

دکودتا په لمړۍ ورځ د ۹ بجو څخه وروسته دخلقیانو اوپرچمیانو ملکي غړوته دستور ورکړل شو چې دتیارسۍ په حالت کې واوسي اما دمازدیگر تر پنځو بجو پورې صفوف په دې نه ؤ خبر چې کودتاچیان څوك دي خوصرف دومره ورته ویل کیدل چې داډزې زموږ (خلقیانو اوپرچمیانو) په کټه دي . دوی ځکه دپیل شوي کودتا څخه انکار کاوه اونه یې افشاه کوله چې کودتاچیان پر ځان نه ؤ متکي اودناکامی امکانات یې موجود ؤ خوکه چیرې ناکام شوي وای نودستور داؤ چې ټول خلقیان اوپرچمیان به وایي چې داخو یو مرتجع اودوطن ضد عمل ؤ اماکله چې په کابل کې د داؤد قواؤ مقاومت ختم شو نږدې ؤ چې دروسي « اورا » په چیغو سره دخپلو خولو وښکې څیرې کړي .

داؤد دکودتا دپیل څخه دده تروژل کیدو پورې په ارگ کې ؤ ، کله چې کودتاچیانو ماښام په اوو بجو د داؤد ځپل اعلان کړل داؤد لا ژوندی ؤ اماد داؤد دځپل کیدو خبر یې دداؤد طرفدار و قواؤ مورال دراټیټولو پخاطر خپور کړ .

